مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۸/۱۱

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## ۴۴مه برخه

## لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۹۲مه برخه

ښاغلی عبدالعزيز نائيبي هغه فرهنګي مرستندی ملګری دی چې په دايمي ډول يې د لنډيو د راټولولو په برخه کې له ما سره مرسته کړې ده. دا دی بيا يې د «مالګيني، خوړې، ترخې» ترسرليک لاندې سل لنډۍ رالېږلي دي چې ترچاڼ کولو وروسته به يې له تاسو درنو لوستونکو سره شريکې کړم.

د همدې لنډيو تررالېږلو مخکې يې داسې راته ليکلي وو:

«ګران استاده سلامونه، جوړ ېخير! سړ اوړی په کور وم... پنځه شلې لنډۍ هم راټولې شوي دي چې له سمون وروسته به يې درواستوم.

ګران استاده سلامونه ارادت! له ژمني سره سم دا هم سل لنډۍ»

د نائيبي صاحب د پيامونو په ځواب کې ما داسې ورته وليکل:

«سلامونه او سهار په خير!

د لنډيو د راټولولو او رالېږلو نه نړۍ مننه.

دا لاس‌نيوی خو به دې تل زه يادومه!»

زه د همدې کرښو په ترڅ کې يوځل بيا له ډېرګران فرهنګي دوست عبدالعزيز نائيبي نه مننه کوم چې زما د لنډيو راټولو  پروژه يې تل په ياد ده او په دې لار کې مې دايمي مرسته کوي.

دا هم د نائيبي صاحب رالېږلي لنډۍ:

مالګيني، خوړې، ترخې

-------------------------

**د ياراني مې ورته ووېل**
**يو يې سوک راکړ، دوه يې لوتې وويشتمه**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په خير و لولئ

**دومره پخې خبرې مه کړه**
**په ماشومتوب به مور بورقه درواچوینه**

**د غم پولیس راپسې ګرځي**
**یا به مې نیسي یا به ورک له مُلکه شمه**

**د جانان نوم د رقیب خوله کې**
**لکه کارغه په خوله کې ګل نیولی وینه**

**د مسافر ازار دې نه اخلي**
**جینې ته وایه چې خوله سمه خوځوینه**

**د مازدیګر سلام مې واخله**
**پس له ماښامه خانه نه وي دیدنونه**

**د مخامخ سترګو یاري وه**
**د پناه شوو سترګو څوک پروا لرینه**

**د سترې ژوند، سترې کیسې دي**
**جانانه مه مې غږوه ژړا راځینه**

**د باغ جوړه توتیان مې ورک دي**
**لکه د باز لوړې ژورې لټومه**

**د یار مې خوی لکه چرسي ده**
**په نه خبره مرور راسره شینه**

**د مودو ورک لالی مې راغی**
**څواني مې رانغله چې زه ورجګه شمه**

**دا زه چې لړې، لړې ګرځم**
**د مطلبي یارانو، یار تېر شوی یمه**

**د بدۍ ټول پور مې ادا کړ**
**پښتو مې سر کړه د چرسي غبړې ته ځمه**

**د ګورستان غاړې ته راشه**
**دیدن به نه وي رب ته پورته که لاسونه**

**د ما نصیب کې خوښي نشته**
**که له دې ټول جرمني تاوو کړمه لاسونه**

**د غُربت کنده یې وطنه**
**یار ملامت نه دی چې بل وطن ته ځینه**

**داسې به ډیر کلونه تېر شي**
**زما او ستا به پکې نه وي دیدنونه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**دیدن د بادو پیمانه ده**
**نه به پرې موړ شي، نه به وترې پندونه**

**نه ګلابي یم، نه بدرنګه**
**زه غنمرنګه یم ځوانان رنځورومه**

**نیستي د خدای له لوري راغله**
**دله په ما منت کوي چې خوار دې کړمه**

**نن مې د یار کلي کې شپه ده**
**ډیره خوړه ده خدای دې نه سبا کوینه**

**نه به وربښي شل منی شي**
**نه به دا ځانګې جینکۍ ارزاني شینه**

**که په ژړا لالی راګرځي**
**وچه ګیاه به زرغونه په اوښکو کړمه**

**کله به بیا سره یو ځای شو**
**چې سترګې ډکې په ګیلې درواړومه**

**کبر ډولي راباندې جوړ کړئ**
**فاني دُنیا کې ډیر خړپړ وګرځېدمه**

**که مې د یار ګوته په لاس وای**
**ما به له ټولو نجونو پورته وړل لاسونه**

**که یو وار مرګ وای، بیا ژوندون وای**
**د ارمانجنو به ختلي وو ارمانونه**

**کلي نه هغه نجلۍ لاړه**
**چې له اوربل نه یې مرغانو وړل ګلونه**

**که مې دا ستا په سینه مرګ وي**
**د نیمې شپې کفن تیار کړه درغلمه**

**کور دې نېږدې، دیدن دې لرې**
**دېوال دې ړنګ شه چې وړیا شي دیدنونه**

**ګومان مې نشي چې ما درکي**
**ایموړ په کور کې دې لوفر بولي مئېنه**

**خدایه په خاورو مې مره کړې**
**چې مسافر لالي به څه خوړلي وینه**

**خویندې د ورور واده کې خاندي**
**ورونه د خور واده کې اوښکې تویوینه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**خاورې د شنه طوطي په سر شوې**
**بلبلې واچول په تور کارغه لاسونه**

**خدایه مه باد کې، مه باران کې**
**خال یې د خاورو رنجو ایښی وران به شینه**

**خدای دې د زړه په رنځ اخته کړه**
**چې تر لندنه دې ونشي علاجونه**

**ستا دې زیړی شي، زما تبه**
**په زیارتونو به جوړه ګرځو مئینه**

**ستا د رباب تنګ مې تر غوږ شو**
**کنډول په لاس، منګي ته تړې ودرېدمه**

**سترګې نرۍ تورول غواړي**
**دا ګډېوډې خو کشراني تورووینه**

**شابه تېرې تورې ته لاس که**
**زه به دې سپینه مرۍ پښو کې غځومه**

**باغ د کارغه په حواله شو**
**بلبل نرۍ فریاد کوي له باغه ځینه**

**تا چې کوڅه کې توخی وکړ**
**زه په مستو ککړه خوله درووتمه**

**ته په اوجره کې ښکُلی ښکارې**
**زه د جلکیو په کتار کې ښکُلې یمه**

**تکل به کله د راتلو کړې**
**زه دې په لار کې څوکېداره ناسته یمه**

**اوس راته چل د صبر ښایه**
**زه خو په مینې باندې تا پوه کړې یمه**

**امانتي مې ګور کې کېږدئ**
**جانان به راشي ما به خپل کلي ته وړینه**

**ای جلکۍ پور یې درنه غواړم**
**ستا په کوڅه کې تېرېدم سپي ونیومه**

**له لرې مرم، له نېږدې سوځم**
**زه لېونی طاقت د دواړو نه لرمه**

**له تا به مستې حورې تاو وي**
**له ما راتاو دې یتیمان ببر سرونه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

له لرې مرم، له نېږدې سوځم
افغانستانه زغم د دوارو نه لرمه

لالیه ځان له ما نه ټول که
نصیب مې خوار دی ناسکه وروڼه لرمه

لالیه مخکې شه لار ګوره
زما کتلې لارې ټولې ړنګې دینه

له تکتیکي شاتګ دې ځار شم
په منډه ته یې مزه ما ته راکوینه

لالیه ښاد شې او اباد شې
د قوم سالار شې چې ببرغ درپسې ورمه

ما ته مې خپلې خویندې بنې
په نه خبره راکوي ستا پېغورونه

مسافري، پردی وطن دی
د خپلو سختو چا ته ووایم حالونه

ما به پردی وطن برباد کړي
تا به زړه کړي د همزولو پېغورونه

ما ته دې تشې وریجې راوړې
خلک مئبنو ته سرې شونډې ورکوینه

مېږې، اوزې راباندې پیایي
ړوند مئبنتوب کړې په شپانه غلطه شومه

چې تلیفون دې کله راشي
اول یې ښکُل کړم بیا یې غوږ ته ونیسمه

چې رانه تلې کریغې مې وکړې
ما وېل کلونه به بیا نه وي دیدنونه

چرسي به راشي ما به مړه کړي
ما یې د چرسو کنډولي مات کړي دینه

چې په کوم زړه کې مینه نه وي
لکه جومات کې نه مُلا وي نه لمنځونه

چې یو وار مرګ وای، بیا ژوندون وای
چې رامعلوم وای، د پردو خپلو نیتونه

چې تا ته ګورم ژړا راشي
چې ځان ته ګورم په ما لا ډیر شي غمونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

جانانه دې اختر له راشه
زه هر يو ځل اختر يواځې تېرومه

جانانه سپينې جامې مه کړه
پرون مُلا پسې جومات ته تللې ومه

جانانه ولې لېونی شوې
چې په روانو کډو غواړې ديدنونه

جانانه ځکه په ما گران يې
تا د ظالم سترگو ته نبغ کتلي دينه

جانانه راشه چې سپرلی شي
زه د خزان د لاسه ډېره ستړې شومه

جينۍ د ښار وي ټولې سپينې
چې شي واده په کلي، تکې تورې شينه

ځوی يې په بل وطن کې مړ دی
مور يې اوږدې لارې څارې چې رابه شينه

راځه د نجونو محفل پرېږده
ورور دې بدې کړې په تا يې خلاصوينه

زُلفې مې ړنگې په تندې کړې
لکه شپونکی چې رمه غره ته وشړينه

زما بې‌غم اشنا ته وايه
په غم کې ډوب اشنا سلام درته کوينه

زړه يې له کاڼې نه هم سخت دی
په خپل جانان مې د روسې گمان راځينه

زما دې زړه له مينې تور کړ
زما ازار دې له بچو ووځه مئېنه

زما او ستا جوړه يې ونکړه
چې کليوال دې بزرگان شي څه به يې کړمه

ژوند کې مې نه وې، غم مې نه و
لکه ښارو به مسته، مسته گرځېدمه

په کټ کې ناست يې ليلا غواړې
په وچه مځکه ماهيان چا نيولي دينه

په مرگ به دواړه سره مړه شوو
ارمان مې دا دی چې به وړاندې وروسته شونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**په خوب ویده یار چې ویښیږي**
**زه به ترې ځړو اوبو لړې وړې یمه**

**پردی وطن، مسافري ده**
**خواره خواري ده چې په ځان یې تېرومه**

**پربېږده چې ږنګه شي ريباره**
**د زور یاري ده د زړه وینې وچوینه**

**په ستن وهلی خال به ږنګ کړم**
**زما له خپل لالي نه وختل لاسونه**

**په یاري زوړ سړی ځوانیږي**
**زه د لالي په یاري ځوانه زړه شومه**

**ویشتلی ما یې روغ به نه شي**
**که ډاکتران دې په ځان ستړي کړې مئینه**

**ورکه نیستي شه، ورک یې نوم شه**
**له ما یې پاتې کړل د کلي اخترونه**

**ولې دلګیر ولاړ یې یاره**
**دلګیره زه یم چې د پلار له کوره ځمه**

**یو زخم نه دی چې به جوړ شي**
**هزار زخمونه مې په زړه دي مړه به شمه**

**یاران به ټول سره راټول وي**
**زه په پردي وطن کې اوښکې تویومه**

**یار په رقیب لاس اچولی**
**لکه د سرو امېل د خره په غاړه وینه**

**صورت یې سپین، کمیس یې شین دی**
**لکه نرګس چې شین یې نار، سپین یې ګلونه**

**عُمر دې ټول وطن کې تېر کړ**
**کلي ته راشه چې رنګین شي ماښامونه**

**غریبي څه لوبې دې وکړې**
**بې قدره ګرځي نازولي صورتونه**

**غریبي ورکه کړې خاونده**
**سوري غوږونه بې لښتیوو ګرځومه**

**غم مې د خپلې بېکسی ده**
**ګنې ګټلي برخې چا پریښې دینه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**ډوډۍ ته کښېنم ته رایاد شي**
**هره مړۍ مې په زړه نېغه، نېغه ځینه**

**فکر کوم سودا مې واخلي**
**بغیر له تا به عُمر څنګه تېرومه**

**قبر مې څنګ کې ورته جوړ کړئ**
**چې مرور جانان په ګور کې پخلا کړمه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ